# د رحمان باباپه شاعري کښې د خودي تصور

قاري عبدالرحمٰن

**ABSTRACT**:

This paper reveals ego in the poetry of Rehman Baba with the special reference of Dr. Iqbal's concept regarding ego.Analysing his poetry readers come to know that he was such a mystic poet of Pashto literature who always persuaded the masses of pashtoon society for leading a dynamic and effective life which could be achieved only by restoring ego in them.

Considering the poetry of Rehman Baba the writer strives to unveil the links of ego with some of the mystical notions and ideologies which badly affected the ego of Muslim Umma.

Islamic Shariah is the basic source of ego before him. On the basis of which he categorized ego into two main parts i.e. the good and evil and considered all evils breading actions the negativity of ego while good breading actions the positivity of ego.

It is worth to mention that Rehman Baba discusses ego as Rumi and Junaid Baghdadi discussed it rather Iqbal who gave a new spirit to it .Hence this paper provide us a chance to study Rehman Baba poetry supporting all the basic subject matters regarding ego.

ددنيا هيڅ يوه فلسفه، نظريه، سوچ او ليك تر هغه وخته كاميا به كېداۍ نۀ شي تر څو چې يو قامي، تهذيبي، مذهبي يا نسلي ټولنې خپل كړۍ نه وي. دا خپلول هغه وخت معلومېږي كله چې د ټولنې عام وګړي دغه فلسفه، فكر يا سوچ په ژوند كښې عملي كړي يا بل داسې اثر څېنې واخلي چې ددوئ په ژوند كښې له ورايه ښكاري. خودا هم د فلسفي، اديب يا ليكوال

ذمه واري وي چې خپل پیغام په داسې انداز وړاندې کړي چې لوستونکي ددۀ په پیغام پوره پوره پوه شي او اثر ځینې واخلي.

دغه خبره که د رحمان بابا د کلام په حقله وکړو نو مونږ په ورین تندي ویلې شو چې رحمان بابا په دې میدان کښې نه یواځې بریالے بلکې د ښۀ نوم خاوند دے. په دې وجه چې کله مونږ ددۀ کلام لولو نو داسې معلومیږي لکه دے چې دنفسیاتو یولوے عالم (Authority in Psychology) وي او په قرنو قرنو یې د پښتون ملت د نفسیاتو عمیقه مشاهده کړې وي اوبیا د پښتون قام د مزاج سره ورته د دوئ ناجوړي تشخیص کړې وي یعنې خپل پیغام یې د شعر په جامه کښې په داسې خوندور انداز ځائ کړے دے چې لوستونکي خامخا ځینې متا ثره کیږي.دغه اثر پر پښتنو د مینې په صورت کښې شوے دے یعنې پښتانۀ ددۀ دکلام په لوستلو سره دهغه مینان شي. په دې مینه کښې ځوك تر انتها پورې رسېدلي دي اوددۀ وکلام ته د اسماني صحیفي غوندي قدر ورکوي. حاجي عبدالغفور المعروف به سوات بابا د رحمان بابا وکلام ته په دې نظر ګوري "که چیري په لمانځه کښې د قران نه علاوه بل څۀ کلام جایز وائ نوما به د رحما ن بابا منظوم کلام لوستے ."(1)

پښتانۀ که د شعر سره علاقه لري او که نۀ خو د رحمان بابا د شاعرۍ یو، نیم شعر به یې خامخا زده وي . یوه وجه یې دا کېدائ شي چې ددۀ کلام په پښتني ټولنه کښې دکروندې څخه تر جوماته او د جوماته څخه دکور تر نغري پورې هر ځاے خور دے.خوددومري اوږدې مودې پس هم ددۀ د کلام په مقبولیت کښې د زیاتوالي وجه داهم ده چې ده په خپل کلام کښې دوه نیم،درې سوه کاله مخکښې هغه نړیوالې فلسفې وړاندې کړې دي چې د ساینسي پلټنو په نتیجه کښې اوس په ورو ورو پر نړۍ خپریږي، لکه د شش جهته بحث نن د ساینسي شعور او تحقیق له رویه رامعارفي شوے دے . حالانکې دغه وینا رحمان بابا درې، درې نیم سوه کاله وړاندې هغه وخت کړېده چې پر نړۍ د جهالت تیارې خورې وې. رحمان بابا لیکي:

بیخودۍ یې ددنیا له غمه خلاص کړم
لارمې بیا مونده بیرون له شش جهته (2)

کله چې يورپ لامادي ترقي نه وه کړې او دد نيا ژوند له هره پلوه نيمګړتياوې لرلې رحمان بابا په خپل کلام کښې حيرانونکي فلسفې (بشمول خودي) وړاندي کولو په وجه داسي لوړمقام ته رسېدلے وو چې ترډيري مودې يې سارے نه و.خود پښتو ادب(دشعر برخه) په ځانګړې مکتب (صوفيانه کلام) کښې تر نن ورځي سارے نه دے پيدا شوے.

شاعري د ژوند د بيلابيلو اړخونو تجزيه ،تنقيد او د اصلاح کولو هڅه وي خود رحمان بابا شاعري ددې پرته درې مضبوطه اړخونه لري لکه شريعت ، طريقت او پښتني اقداراو دغه درې واړه يې ديو بل په قالب کښې داسي سره پيوند کړي دي چې منکر پرې اعتراض کولے نه شي .دده و شاعرۍ ته له منشور(**prism**) سره تشبيهه ورکولے شو چې هر اړخ يې روڼ او ځلېدونکے دے.

د رحمان بابا پرژوند ، شخصيت،فن اوفکر تراوسه څومره کار شوے دے هغه دده شخصيت په بشپړه توګه راپېژندلو کښې بريالے نه ښکاري. د رحمان بابا ډ ېر داسي افکاردده په ساده خو فلسفيانه کلام کښې نغښتي دي چې څېړني ته اړتيا لري.که څۀ هم زياتره اشعاريې ساده، روان او واضح دي بيا هم د کلام په رموزيې پوهيدل او بين السطورمعنا ته رسېدل اسان کار نه دے.رحمان بابا په خپله وايي:

داناياان به د رحمان په قال پوهيږي
دلته کار د هر نا اهل ونادان نشته (3)

درحمان بابا د شاعرۍ خونه پر تصوف ( چې د خودي په لوړ اوځوړ کښې دروند رول لري) بنا ده . تصوف د ده د کلام تر ټولو لوئ بحث دے.مونږ به په دې دعوه کښې بې ځايه نه يو که ووايو چې د رحمان بابا شاعري د تصوف څخه پيل کيږي اوپر تصوف باندي ختميږي. خوهغه تصوف نه چې ټولنه په ژوند وژني او د رحمت پر ځاے زحمت جوړيږي.

حقيقت دادے چې د فکراثرپه انساني ژوند کښې ضرورليدل کيږي يعني د انسان کارونه دده د خپل فکر په رڼا کښې تر سره کيږي.د رحمان بابا سوچ او فکرددنيا اودنيا يي ژوند په حقله مونږته دده په کلام کښې په نظر راځي چې رحمان بابا خپل ژوند د يو د روبښ په ډول تېر کړئ دے او ددنيا

حب يې کله هم نه دے کړۍ. لکه زمونږ ګران نبي حضرت محمد ﷺ دنیا نه خوښوله او درویشانه ژوند يې کوۍ اوددرویشۍ ژوند يې غوره هم ګڼلۍ دے لیکن ددې سره سره يې ددنیا له ژوند او روزګار څخه ډډه نه ده کړې.مونږ ته يې د متحرك او خوداره ژوند تېرولو ویناوي د حدیث مبارکه په شکل کښې پرېیښي دي.

دغه ډول رحمان بابا هم ددرویشۍ ژوند غوره ګڼي خو د خپلي خودۍ بشپړه ادراك لري. دنیا او د دنیا ښې و ښادۍ يې هیڅکله نۀ دي غندلي، صرف په هغه وخت کښې چې فساد ځیني رامینځ ته کیږي.ددۀ په اشعاروکښې دهغو تعلیماتو(نظریو) نفي هم په نظر راځي په کومو کښې چې دنیا اوددنیا ژوند بې مقصد ګڼل کیږي یا ددنیا ژوند په ورو ورو د بې حسۍ او ورانۍ و خوا ته ځي.دغه نظریه په ادیان عالم کښې په رنګارنګ شکل کښې وجود لري خو اسلام ددې نظریې مخالفت کوي او دیوې داسې ژوندۍ ټولني درس ورکوي چې متحرکه وي او د وخت دنوو لانجو خلاصولو قدرت ولري. له بده مرغه لکه څنګه چې د نړۍ پر مخ نورو مذاهبو دغلطو نظریو او افراط وتفریط له وجې خپلي اصلي بڼې له لاسه ورکړې دي دغه ډول اسلام هم ددې له ګذار څخه نۀ شو پاته او ډیرو ناوړو افکاراو نظریاتو ځاے په کښې وموندۍ . ډول ډول فرقي په کښې راپورته شوې. په اسلامي ټولنه کښې ځینې داسې نظریو هم ځاے وموندۍ چې د عیسائیت یا بل مذهب څخه راغلي وې . دا ډول نظریې داسلام په پوښ کښې د اسلامي تصوف او نورو لارو زمونږ ودین او ټولنه ته رانوتلي دي.او زیات اثر يې په پښتني ټولنه کړی دی. ددې اثرکول یو لازمي امر ۋ.ولې ټول پښتانه مسلمانان او اسلام خوښونکي وواونن هم دي خودناپوهۍ او جهالت له وجې زمونږ ټولنه تر ټولو زیاته په تاوان رسېدلې ده چې د رحمان بابا غوندې عالمانو ددې د جوړولواو اصلاح کولو عملي هڅې کړې دي .

درحمان بابا کلام وجودي او شهودي دواړه تصوفي نظریات په غېږکښې رانغاړي.او خودي نیغ په نیغه د وجودي نظریې، انساني فطرت اوژوند سره تړون لري. درحمان باباپه شاعرۍ کښې د خودي تر تجزیه کولومخکي د

خـودي تعريـف، پـر ټولنـه د خـودي اثـرات او درحمـان بابـا او اقبـال پـه فكـر كښـې يووالي باندې سرسري نظرا چول او لنډه جايزه يې اخيستل غوره ګڼم.

**د خودي تعريف:**

قلندر مومند د خودي تعريف په داالفاظو كښې كړئ دے.

خودي (خو- دي) اسم مونث

(۱)كبـر، غـرور (۲) خـود خـواهي، خودپرسـتي (۳) ځـانګړيتوب، يـواځې توب (۴) سد، بيداري، هوښ، د بيدارۍ حالت (۵) ذات، هستي (4)

ميـاں بهـادر شـاه ظفـر كاكـا خيـل پـه ظفـر اللغـات كښـې د خـود ي تعريـف داسې كوي.

خودي (خدي) (۱) خپل ځان ،ذات، نفس، انانيت،

(۲) خود سري، خود غرضي (5)

په درسي اردو لغت كښې د خودي تعريف داسې كوي.

خودي (خ +دي) (۱) غرور- تكبر

(۲) تر جمه : په خپلو صلاحيتونو ځان خبرول، خود اعتمادي، خودارے (6)

سيد انوارالحق مؤلف اردو پشتو لغت كښې د خودي تعريف كوي.

خودي (مونث)

خپل ځان .خود غرضي، خود سري، خود بيني، كبر، لويي ځان ته ګوته نيوه.

( نـن ورځـې لفـظ "خودي"پـه معنٰـی د خپـل ذات، خپلـه هسـتي او د خـودداری هـم اسـتعماليږي. د علامـه اقبـال پـه اشـعارو كښـې عمومـاً هـم پـه دغـه معنـو كښـې استعمال شوے دے) (7)

دفرهنګ اقبال مؤلف ليكي:

خـودي (ف) اسـم : ترجمـه :د خپـل ځـان او شخصـيت پيژندنـه.د نفـس پيژندنـه (د علامه په الفاظو كښې د نفس احساس او د ذات يقين بحواله اسرار خودي ).

پيكر هستي زآثار خودي است ص ۱۳ اسرار خودي. (8)

پـه اردو لغـت كښـې چـې د اردو لغـت بـورډ لـه خـوا چـاپ شـوی دے د خـودي تعريف په دې ټكو كښې كوي:

خودي (و معد) م، ف

(۱) ترجمه :خو د بخود ، په خپله

لگــــے اب خـــــودی عشــــق تــــو هـــــر کهـــــین
دیوانــــا هــــــے ذات ڈھونـــــــڈ تـــــا نهــــین

خودي (و معد ) ا، مث
(۱) ترجمه: خپل ذات، نفس، روح، شعور ذات، خود شعوري.
نــه دیــر مــین نــه حــرم مــین خــودی کــی بیــداری
کــه خــاورا ن مــین هــے قومــوی کــی روح تــر یــاکی

(۲) خود پسندي ،انانيت ، غرور، تکبر، خود سري، خودراي.

القصــه جــس کــو دیکھــے جاهــل هــو یــا حکــیم
آزار مــــین خــــودی کـــے هـــے بیچـــاره مبـــتلا

(۳) خودغرضي.

پهــــر خـــدائی مــــین نظــــر آئـــے نـــه اپنـــا ثـــانی
خــود بخــود دل سے جــو اٹھ جــائے خــودی کــا خطـره (9)

ډاکټـر ابوسـعيد نورالـدين دخـودي تعريـف داسـرار خـودي د ديبـاچې څخـه داسې نقـل کـړئ دے. ترجمـه:"دخودي پـه حقلـه نـاظرين خبـرول ضـروري دي چـې دا تـورے پـه دې نظـم کښـې د غـرور پـه معنٰـی کښـې نـۀ دے کـارول شـوے لکـه څنګـه چـې عمومـاً پـه اردو کښـې کـارول شـوے دے. ددې مفهـوم يـوائې احسـاس نفـس يا د ذات تعين دے.(10)

د خــودي پــه حقلــه د ډول ډول تعريفـو څخـه مـونږ پـه دې نتيجـه رسـو چـې خـودي د اسـم او فعـل پـه توګـه کـاريږي او د فعـل پـه صـورت کښـې ډېـره کمـه کـاريږي. چيـري چـې د فعـل پـه معنـا کښـې کـار شـوې وي هلتـه يـې معنـا ښـکاره ده يعنـي خود بخـود ، يـا پـه خپلـه، کلـه چـې د اسم پـه معنٰـی کښـې کـار شـوې وي هلتـه دوې معنـاوي خصوصـاً شـيندي . يـوه معنٰـی خـود پسـندي، خـود غرضـي، غـرور،

تکبــر، انانيــت او لــويي ده. دويمــه معنٰــی يــې خــود شــعوري، نفــس، ذات، ســد، بيداري، هوښ او هستي ده.

مـونږ دلتـه د خـودي پر مثبت اړخ يـا معنٰی بحث کوو. چې لـه رويـه يې تولنـه قـوت او طاقـت موندي.کـه خـودي دمعرفـت يـا پيژنـدګلوۍ پـه معنٰـی کښـې واخلـو، نـو زمـا پـه خيـا ل معرفـت هغـه سـړی کـوائ شـي څـوك چـې د زړه پـه سـترګو څـۀ ليـدل کتـل کـولے شي او کم ازکم د خـالق کائينـات معرفـت چې ضـرور ولـري. نـود هغـه مـذاهب عـالم پيروکـاران چـې خـدائ منـي او پـه خـدائ ايمـان لـر ي، د خـودي ادراك پـه پـوره توګـه کـولے شـي خـو څـوك چـې د الله د وجـو دڅخـه انکـار ي وي لکـه مـاده پرسـتان، دهريـان او داسـي نـور، هغـه د خـودي بشـپړ ادراك نـۀ لـري نـۀ يـې کـولے شـي. د هغـو د خـودي ادراك بـه تـر هغـه وختـه نيمګـړے وي تـر څـو چـې دوئ د الله پـاك د وجوديـت يقـين پـه زړه کښـې نـۀ وي، دغـه اقـرار او يقـين هغـه وخـت کيـږي چـې کلـه يـې زړه ومنـي او مطمـين شـي او زړه يـې هلتـه منـي چـې څـۀ نـۀ څـۀ معرفـت ولـري. رحمـان بابـا د خـدائ معرفـت تـه پـه د ي الفـاظو کښـې اشـاره کړيده:

معرفـــت د خـــدائ ځرګنـــد دے پـــه هـــر څـــۀ کښـــې
ســـترګي و خـــوره چـــې څـــوك هـــومره نظيـــر نـــۀ کـــا (11)

## درحمان بابا او علامه اقبال د افکارو يو رنګي

درحمــان بابــا پــه څيــر ډاکټراقبــال هــم (د اردو ژبــې) لــوی مفکــر او دانشــور دی. ډاکټـر اقبـال يادونـه دلتـه پـه دې ضـروري ګڼم چـې پـه شـرق کښـې دغـه مسـلم فلسـفي د خـودي نړيوالـه فلسـفه پـه ډېـر زور او شـور وړانـدې کـړه او انسـان يـې د صـحي اسـلامي ډګـر خـوا تـه رااړاوه او عملـي هڅـه يـې وکـړه. تـر دۀ مخکـې ځينـو صـوفيا کرامـو لکـه جنېـد بغـدادي اوجـلال الـدين ودې فلسـفې رومـي پـه خپلـو ليکنو کښې اشاره کړې ده.

رحمان بابا او علامه اقبال دواړه په ځينو ځايو کښې فکري يو رنګي لري. دغه يو رنګي کله کله دومره سره ورته وي چې د لوستونکي د ادبي سرقې ګمان باندي و شي. که څۀ هم دا خبره له حقيقته ليرې ده.

دوئ د هر څۀ محور عمل ګڼي .رحمان بابا وايي چې:

"څۀ عمل وکړې د هغه عمل جزا به ضرور مونډې. که څوک ښۀ عمل وکړي انجام به يې ښۀ او که بد وکړي انجام به يې بد وي. دلته دوئ د خپل شاعرانه استعداد په مرسته و لوستونکو ته د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ذکر په يوه شعر کښې کړئ دی.

هررنګ تخم چې کرې هغه به اخلې
خپله خپله مېوه نيسي هره ونه (12)

بل ځائ دغه خيال داسې څرګندوي چې بې له څۀ وجې يا بې له څۀ سببه هيڅوک چا ته زيان نۀ رسوي. که مونږ پام وکړو دا زمونږ عمل دی چې په ښو او بدو چارو مو پسولي يا ترټي. د خپل عمل له وجې مونږ ته ژوند تريخ شي يا مو د ژوند خاتمه وشي رحمان بابا وايي:

څوک بې وجې چا ته توري تېرې ا خلي
خپل عمل دے چې دنيا يې کړه هلاکه (13)

ډاکټراقبال د رحمان با با په څېر عمل ته هومره ارزښت ورکوي او په عمل يقين لري. ډاکټر اقبال د انسان و اساسي جوړښت ته اشاره کړې ده چې انسان ته يوه لويه ذمه واري ورسپارل شوې ده. که چيري څوک دغه ذمه واري په پوره توګه تر سره کړي هغه ته به لويه خوشحالي ور په برخه شي او که سرغړونه وکړي هغه ته به ټاکل شوې سزاګانې ورکړل شي.

عمل سے زندگی بنتی ہے جنت بھی جہنم بھی
یہ خاکی اپنی فطرت میں نہ نوری ہے نہ ناری (14)

په پورتني اشعارو کښې خودي ته کنايتا اشاره شوې ده. که څوک وغواړي نو خپل ژوند هرې خوا ته اړولے شي .په انګريزي ژبه کښې وايي: Man is the architect of his own fate يعني انسان خپل قسمت په خپله

جوړوي. خو شرط دا دے چې دۀ ته د خپل ځان احساس وشي او کله هم د خپل ژوند څخه نا امید نۀ شي .ډاکټر اقبال او رحمان بابا هم په دې نظر دي چې هرڅۀ د انسان په هڅه او کوشش پورې اړه لري. په قرآن کریم کښې اللهﷻ فرمايي: ان الله لا یغیر مابقوم حتٰی یغیروا ما با انفسهم.

ترجمه: بې شکه الله پاك د يو قوم حال تر هغو نۀ بدلوي تر څو چې دوئ په خپله د بدلېدو هڅه نۀ وکړي. (۱۵)

بل ځائ ارشاد باري تعالٰی دی:

انا هدینٰه السبیل اما شاکرا و اما کفوراً.

ترجمه: مونږ هغۀ ته لار وښيله اوس د هغۀ کار دی که شکر کوي او که ناشکري کوي. **(16)**

دوئ دواړه په دې عقیده دي چې د انسان ژوند ټول د دۀ په محنت باندې موقوف دے . محنت او خواري هغه خلګ کوي د چا چې خودي ژوندۍ وي.که د خلګو خودي ژوندۍ شي ټولنه پر مختګ کوي. ولې د خلګو خودي د ټولنې روح وي. رحمان بابا او اقبال انسان ته د ژوند کولو طرز ورښيي چې په ژوند کښې عزت، خوند او تسکین، ښېګړه او وده هلته انسان مومي کله چې د ژوند په مقصد پوه شي او د ژوند مقصد و پېژني. دوئ د انسان عزت، لويي او شرافت په عاجزي ا و خاکساري کښې پټ بولي. د وني ټوله ژوند په تخم کښې پټ وي خو تر څو چې خاورو ته نۀ وي سپارل شوې او ښه خوراك او څښاك نۀ وي ورکړل شوے تر هغو دغه تخم تناور او بارداره ونه نۀ شي جوړېدلے رحمان بابا وايي:

ژوندے ځان په زمکه ښخ کړه لکه تخم
که لويي غواړې د خاورو په مقام شه (17)

هم دغه خبره ډاکټر اقبال داسې کوي:

مٹھا دے اپنی ہستی کو اگر کچھ مرتبہ چاہے
کہ دانہ خاك میں ملکر گل وگلزار ہوتا ہے. (18)

اقبال او رحمان بابا دواړه د اثبات خودي په حق کښې دي. دوئ د نفي خودي پر ځای د اثبات خودي ټینګوالے د بریالیتوب سبب ګڼي.فرق یې دا دے چې ډاکټر اقبال خودي په لغوي او اصطلاحي معناوو کښې په کار راوړې ده. رحمان بابا د لفظ خودي واضح تعریف نۀ دے کړے خو د هغه ټولو اساسي مضامینو مدحه او ستاینه کوي کوم چې د خودي روح ګڼل کیږي یا دخودي په مضبوط کولو کښې څۀ نۀ څۀ رول لوبوي.

## ډاکټراقبال او خودي:

کله چې ډاکټر اقبال و مسلمانانو ته د ورپیښو لانجو او ستونزو ژوره مطالعه وکړه. ددۀ په نظر لوئ علت هغه سکوت او بې حسي ورغله چې ټولنه یې (paralyzed) کړې وه. ددۀ په خیال ددې جمود اساسي علت دوحدت الوجود نظریې اثرات وو د کومو له رویه چې انسان د یوه څاڅکي په مثال دے او دغه څاڅکی ابدیت او بری هغه وخت تر لاسه کولے شي څۀ وخت چې په دریاب ګډ شي. نو د انسان دپاره هم په کار دے چې په حقیقي هستي په ذات کښې خپل ځان فنا کړي. خوډاکټر اقبال د فنا پر ځائ و بقا ته اماده شو او د ډاکټر اقبال نظریه د اسلامي شریعت عین مطابق ده. الله پاك په قران کریم کښې فرمایي:

ولاتکسب کل نفس الاعلیها ولاتزر وازرة وزر اخرٰی

ترجمه: هر څوك چې څۀ کوي د هغه ذمه واري پر دۀ ده او هیڅوك به د بل بار نۀ اخلي.(۱۶۴-۶) .(19)

له دې پرته اقبال د ژوند د لانجو په لوئ زړه او همت مقابله کولو لاړ غوره ګڼي. کوم جمود ، بې عملي او سستي چې په اسلامي ټولنه کښې راغلې ؤ د هغه د ماتېدو دپاره اقبال نړیواله فلسفه خودي وړاندې کړه. ډاکټر ابوسعید نورالدین په دې باره کښې داسې وایي:

ترجمه "اقبال وایي چې انسان یو داسې څاڅکی نۀ دی چې اخیر په دریاب ګډ شي اوفنا شي بلکې ددۀ هستي پخپله یو مستقل وجود لري. صوفیانود وحدت الوجود نظریې لاندې داسې تعلیمات وړاندې کړل چې

انسان ته په کار دی چې صفات الٰهیه خپل کړي او په ذات خداوندي کښې فنا شي او د بقا درجې ته ورسیږي. علامه اقبال وايي چې د انسان مقصد او نصب العین داسې په کار دی چې صفات الهیه خپل کړي او له زیات څخه زیات انفرادیت ومومندي ."(20)

اقبال د دوحدت الوجود د نظریې پیروکارانو پر ضد د معرفت خداوندي دپاره اول د ځان معرفت ضروري بولي. دی لیکي چې انسان د الله عرفان هغه وخت کولے شي کله چې خپل ځان وپېژني. د ځان پېژندني څخه ددهٔ مراد خودي پېژندنه ده. دی خودي پېژندنه د حق ذات د معرفت وسیله ګڼي. په دې حقله ډاکټر ابوسعید نورالدین د اقبال خیالات داسې وړاندې کوي:

ترجمه: "صوفیاء کرام د وحدت الوجود په رڼا کښې د معرفت الٰهي دپاره خپله خودي په ذات خداوندي کښې د فنا کېدو درس ورکوي. اقبال ددوئ پر ضد دغه درس ورکوي چې په "من عرفه نفسه فقد عرفه ربه" باندې عمل کولو سره د خپلې خودي سم احساس وکړئ او لکه څنګه چې په کار دے هغسې معرفت يې وکړي. د خودي د معرفت وروسته د ا للّٰه پاك معرفت تر لاسه کړئ. ددهٔ په خیال د الله پاك معرفت د خودي د معرفت سره اړه لري. یعنې د خودي د معرفت سیوا د اللّٰه پاك معرفت ناممکن دی. (21)

ډاکټر اقبال خودي په دوه ښاخه ویشي یوه ته "اثبات خودي" او بل ته يې د "نفي خودي" نوم ورکړے دے. هر ډول تولنیزي ښېګړې د اثبات خودي په نامه اوکمزوریاني یا بد اړخونه يې د نفي خودي په نامه بللې دي.

ډاکټر اقبال خودي ته له یوې داسې ذرې سره تشبیهه ورکوي چې په سائنسي اصطلاح کښې ایټم ورته وايي او د کائینات وجود له دغه ذرې څخه پیدا کیږي او په دغه ذره بشپړ کیږي. له دې ذرې پرته د کاینات وجود مانده دی. ډاکټر اقبال لیکي چې:

"د کاینات په ذره ذره کښې خودي د یو پټ قوت په شکل کښې موجودیت لري. د خودي قوت رابرسېره کولو او پکار راوستولو دپاره د عملي ګام اخیستو ضرورت دے. دے لیکي:

خپـل جـوهر ښـکاره کـوي دا ، د خـودۍ دغـه عـادت دے
پـه ذره ذره کښـې وينـه، ويـده پـروت د دې قـوت دے
قـوت دی خـو پـروت دی غلـے، عمـل کـړو تـه نـاقلاره
سـببونه مـدام ګـوري، د عمـل د کـړو دپـاره
دخـودۍ لـه زور قوتـه، د دنيـا د ژونـد سـمون دے
چې وي دا ځـومره مضبوطه، نـو مضبوط هـومره ژونـدون دے
د خـودۍ تـورے چې يـاد کـړي، د يـو ځـاځکي کـړم خبـره
نـو کـه دے خـړې اوبـه وي، نـو خپـل ځـان کـړي مرغلـره (22)

ډاکټـر اقبـال د خـودي د اثبـات خبـره کـوي. ددۀ پـه فکـر پـه خـودي کښـې جهانونـه پټ دي ددې پـه برکـت لـوړ لـوړ مقاصـد تـر لاسـه کېـداۍ شي خو شـرط دا دے چې څوك ددې انکار نۀ وکړي اثبا ت يې وکړي. دے وايي:

چې خـودي شـوه رابيـداره، او دې وکـړې غزونـې
راښـکاره يـې يـو جهـان کـړ، د پـوهنې ځـان بيننـې
جهانونـه جهانونـه، پـټ پراتـه د دې پـه ذات کښـې
دا ډېـر څـۀ راپيـدا کـړي، چـل يـې شـته دے پـه اثبـات کښـې (23)

د خـودي فلسـفه وړانـدې کولوسـره د اقبـال مطلـب پـه ټولنـه کښـې نـوې سـاه (روح) پوکـل ؤ. د ډاکټـر اقبـال پـه فکـر د ټـولنې ذمـه وارو خلګـو اوډيـرو دينـې پيشـواوو او عالمـانو خپلـه ذمـه واري يانـه پـوره کولـه يـايې د هغـه د پـوره کېدواسـتعداد لـه لاسـه ورکـړے ؤ. د اسلامي تصـوف هـم اصـلي بڼـه الـوتې وه. پـه خانقـاوو کښـې هغـه قـوت نۀ وو پاتـه شـوے چې پـه اسـلامي نـړۍ کښـې يـې انقـلاب يامثبـت بـدلون راوسـتلی وای. پـه لانـدې اشـعارو کښـې علامـه مرحـوم پـه خصوصـي توګـه هغـه چـا تـه مخاطـب دے چـا چـې پـه يـو يـا بـل رنـګ کښـې د ټـولنې د سـپين او تـور پرېکـړې کولـو تناوونـه پـه لاس کښـې اخيسـتي دي. دے هغـو تـه دا احسـاس ورکـوي چې تاسـو بايـد خپلـه ذمـه واري تـر سره کـړئ او ټولنـه د ترقـۍ پـر لـور روانـه کـړئ. خلـګ پـه نـوو علومـو زده کولـو بانـدې داوسـني ژونـد مقابلـه کـولے شـي. ډاکټراقبـال د خانقـاوو پـه موجـوده نظـام کښـې نيمګړتيـاوې

وينـي ځکـه وايـي چې صـوفيا کـرام لـه پـه کـار دے چې لـه خانقـاوو څخـه و عملـي ډګـر تـه راسـتـانهٔ شـي او د ژونـد پـه معـاملاتو کښـې دي برخـه واخلـي. پـه خانقـاوو کښــې کښېناســتل رهبانيـت دے چې د اسـلامي تعليمـاتو سراسـر خـلاف دے او ټولنه د ورانۍ وخواته بيايي:

مــلا کــی نظـر نــور فراسـت سـے هـے خــالی
بـے سـوز هـے ميخانــه صـوفي کـی مـين نــاب

نکـل کـر خانقـاهوں سـے ادا کـر رسـم شـبيری
کــه فقـر خانقـاهی هـے فقـط انـدوه و دلگيـری

تـرے ديـن وادب سـے آرهـے هـېن بـوئے رهبـانی
يهـی هـے مـرنے والـی امتـوں کـا عـالم پيـری (24)

ډاکټر عبدالقوي دريا ابادي د اقبال د خودي د معيا ر په حقله ليکي:
"اقبـال د خـودي معيـار خيـر اوشـر ټـاکلی وو. کـوم کارونـه چې د فطـرت پـه تسـخير کـو لـو کښـې مرسـتندوئ دي هغـه د خېـر او کـوم کارونـه چې رکـاوټ جوړيږي هغو ته يې شر ويلے دے".

نمــود جســکی فــراز خــودی ســے هــو جميــل
جوهـو نشـيب مـين پيـدا قبـيح و نـا محبـوب (25)

دغـه معيـار ډاکټـر اقبـال د نطشـې لـه افکـارو څخـه رااخيسـتے دے. نطشـې ليکي:
"د ژونـد هـر ه لار او طـرز فکـر چې قـوت ځينـې تـر لاسـه کيـږي خېـر دے او ددې پـر ضـد هـره لار يـا طـرز فکـر چې کمـزوري ځينـې زيـږي او د کمـزورۍ و خواته يې وړي شر دے." (26)

### په ټولنه کښې د خودي ارزښت او اثرات

انسـان د يـوې ټـولنې اکـايي وي. ددهٔ حـال، ماضـي او مسـتقبل د بـل هـر چالــه حــال، مســتقبل او ماضــي څخــه جــلا وي. دغــه ډول ددهٔ خوشــحالي او

خواشـــني، مـــرګ او درد او خواهشـــات ددۀ خپـــل دي. ددۀ ددرد ا و خوشـــحالۍ ادراك بـل څـوك تـر هغـه وختـه پـورې نۀ شـي کـولے تـر څـو چـې د ے پـه خپلـه د هغـۀ اظهـار و نـۀ کـړي. پـه دې وجـه د ے ځـان تـه يـو هسـتي يـا شخصـيت بلـل کيـږي. دغـه هسـتي يـا شخصـيت تـه پـه ځـانګړي ډول خـودي ويـل کيـږي. دخـودي ادراك پـه انفـرادي او هـم پـه ټـولنيزه توګـه کېـدائ شـي. کـه پـه ځـانګړې توګـه د خـودي ادراك وشـي دا دټـولنيز ي خـودي د بريـاليتوب سـبب ګرځـي. کـه چيـري د خـودي څخـه سـرغړونه وشـي يـا د هغـې داساسـي مضـامينو څخـه سـترګې پټـې کـړل شـي، ددې اثـرات پـر ټولنـه پرېـوزي او پـه نتيجـه کښـې يـې د ټـولني مـرګ يقينـي دی. ډاکټـر اقبال ليکي:

"ترجمه:"کـه ټولـه دنياديوشـي خـواهش وکـړي دهغـود خـواهش پـوره کېـدل مطلـب زمـا خـواهش پـو ره کېـدل نـۀ دي بلکـې زمـا خـواهش بـه هغـه وخـت پـوره کيـږي څـۀ وخـت چـې مـا تـه هغـه څيـز ورسـي. د غابښـو ډاکټـر زمـا د غـابښ پـه درد کښـې لـه مـا سره همـدردي خو کـولے شـي لـيکن زمـا د غـابښ د درد انـدازه نـۀ شـي کـولے. زمـا خوشـحالي، غـم او خـواهش پـه بشـپړه توګـه يـواځې زمـادي او صـرف زما د ذاتي ايګو برخه دي.(27)

خـودي پـه انسـاني ژونـد کښـې د محـرك (catalyst) پـه حېـث کـار کـوي او انسـاني ضـمير رونړ سـاتي. کـه پـه ټولنـه کښـې خـودي متحرکـه وي هغـه ټولنـه بـه تـل د بريـاليتوب پـه لار روانـه وي. کـه خـودي نـۀ وي فعالـه د هغـې ټـولنې ژونـد بـه جامـد وي او هلتـه بـه انسـانان د پېراسـايټ (parasite) غونـدې ژونـد تېـروي .خوکله چې مېزبان (Host) ځينې ليرې کړل شي پېراسا يټ دستي مري.

تـر خـوارۀ او سـپېڅلي ديـن اسـلام مخکښـې عيسـائيت او بدهـ مـت تـه رهبانيـت لـوئے زيـان رسـولے د ے. ددوئ ټـولنيز ژونـد يـې وران کـړئ او د مـذهب اصـلي بڼـه يـې لـه منځـه وړې ده. کـه څۀ هـم د عسـائيت پـه نامـه لـوئے مـذهب د نـړۍ پـرمخ نـن هـم شـته لـېکن تعليمـات يـې الهـامي نـۀ دي پاتـه شـوي. پـائے يـې دا شـو چـې د هغـې ټـولنې ويښـو خلګـو د مـذهب څخـه خپـل لاس پرېولـل او د خپلـو ټولنيزو لانجو پرانستلو لپاره يې بېل قانون جوړ کړ.

و اسـلام تـه هـم د غـه سـترې هغـه وخـت ورپېښـه شـوه کلـه چـې پـه اسـلامي تصـوف کښـې نـاوړه لاس وهنـې وشـوې او د عيسـائيت يـا بدهـ مـت پـه ډول

رهبانیت خپلي ولې په کښې تینګې کړې. اسلام خو د رهبانیت غندنه کوي او کله یې هم د رهبانیت حوصله افزایي نهٔ ده کړې. حدیث مبارك دی:

لا رهبانیة فی الاسلام.

ترجمه: په اسلام کښې رهبانیت نهٔ شته.

رهبانیت ټولنه خواروي او ولې یې وچوي. د داسې ټولنې خلک د مادي دنیا په حقله ډېر pessimist شي. حالانکې دنیا د اخرت کښت دے.

نبي ﷺ فرمایلي دي:

الدنیا ء مزرعةالاخرة.

ترجمه: دنیا د اخرت کېتے ده.

رحمان بابا وایي:

دنیا کښت د اخرت دی :: دا خبره ده رښتیا (28)

که د یوې ټولنې وګړي خپلې خپلې ذمه واریانې په مړانه او همت ترسره کړي او "الکاسب حبیب الله" ترجمه محنتي د الله دوست دی، تر اصول لاندې ژوند تېر کړي. هغه ټولنه به له هره جهته بشپړه وي او خودي به یې هم روغه وي. په دې حدیث مبارك کښې هغه ټولنه غوره ګڼل شوې ده کومه ټولنه چې روانه او ژوندۍ وې. د وخت رامنځ ته شوو بښګړو خپلولو او د خپلو کمزوریانولیرې کولو صلاحیت ولري.

خودي ته له بېلا بیلوخواوو زیان رسیږي .یو هغه وخت وي کله چې څوك خپل ځان د ټولنې تر هر چا غوره وګڼي. دې ته تکبر، خود پسندي، انانیت، خپل چاري یا لویي وایي. دغه ډول رویه هیڅ تهذیب او ثقافت نهٔ قبلوي. په ټولنه کښې منفي رویو ته وده ورکوي او منافرت، بدامني زیاتوي. دا ډول خلک د احساس برترۍ په ناروغۍ اخته وي. په دغه صورت کښې انسان د ځان پرته پر بل چا باز نه کښېني. دا په ټولنه کښې بد اعتمادي ته وده ورکوي .دغه بداعتمادي د ټولنیز جمود سبب ګرځي. رحمان بابا له داسې رویې څخه ډډه کوي او وایي:

دهـــوا پـــه نغوتـــه مـــه ځـــه کـــه دانـــا یـــې
هـــوايي ويشـــتلي غشـــي ژر پـــه ځـــوړ شـــي (29)

رحمان بابا دانا خلګ هغه څوك بولي چې غروراو تکبر نهٔ لري. دے وايي مغرور کس د هغه غشي په شان دے کوم چې په هوا کښې غورځېدلے وي. داسي غشي ډېر زر د مځکې و خوا ته راستون شي. دغه ډول د ځان خوښي او متکبر سړی ژوند هم ډېر ژر د کمبوت وخواته ځي. د کوم انسان خودي ته چې زيان رسېدلے وي او دحيوانيت خويونه يې خپل کړي وي رحمان بابا داسي خلګ انسانان نهٔ بلکې حيوانان بولي تر څو چې انسان خپل خويونه نهٔ وي بدل کړي. ولي دا په انسان کښې د ښه او بد تميز ختم کړي. که څهٔ هم دا خويونه د انسان په سرشت کښې شته خود چا خودي چې ژوندی وي هغه يې په قابو کېدو بری مومي. رحمان بابا وايي:

پـــه ادم کښــــې د حيـــوان خويونـــه هـــم شـــته
بيـــا هالـــه يـــې ادم بولـــه چـــې ادم شـــي (30)

خودي ته هغه وخت هم زيان رسيږي کله چې څوك ډېره ټيټه رويه خپله کړي او ضمير وغيرت، غنا ،قناعت او صبر له لاسه ورکړي. د فقر يا بل مادي څيز تر لاسه کولو دپاره خپله خودي تر پښو لاندي کړي. رحمان بابا هغهٔ د ته قناعت خپلولو نصيحت کوي چې که قناعت وکړې د بل د در له فقره به خلاص شې او زړه به دي غني شي. پر خپله هستي او نيستي خوشحاله او راضي اوسه:

چـــې کيميـــا د قناعـــت يـــې پـــه لاس کښـــېوځي
د شـــړيه پـــه خرقـــه کښـــې بـــا دشـــاهان شـــي (31)

هغه خلګ باچاهان ګڼي چا چې قناعت خپل کړئ وي که څهٔ هم دوئے په ښکاره د فقيرانو او خوارانو په جامه کښې وي يا يې د دنيا مال او دولت نهٔ وي. ولي د نفس او خواهشاتو پيروکاران تل په خساره کښې وي. رحمان بابا وايي:

قناعت مې تر خرقه لاندې اتلس دے
پټ د درست جهان بادشاه ظاهر ګدا يم (32)

له قناعت خپلولو سره سره يې د طمعې ناجوړې هم له ځانه د ايستلو وينا کړې ده. قناعت يې دوا او طمعه يې پر هېز ښيلے دے. دے وايي چې: "څوك د هما په څېر طمعه پرېږدي هېڅ ډول بې عزتي او سپکتيا به نۀ پر راځي. او که طمعه وکړي پر هر در به ټکرې خوري کا ر به يې تر سره نۀ رسيږي.

د همای په څېر طمعه کړه وچ هډوکي
لکه مچ طالب د شهدو شکر مه شه (33)

دا رويه عموماً هلته ډېره په نظر راځي چېرې چې خلک د احساس محرومۍ په مرض اخته وي. ځيني خلک دناپوهۍ له وجې په دې اخته وي اود ځان د برياليتوب نخښه يې ګڼي. د ځيني لوستو خلګو خودي د يو مادي فايدې يا طمعې په وجه د ځينو قوتوله خوا ورختم کړل شوې وي. د کومې ټولنې څخه چې د خودي تصور ليرې کړل شي اوپه خلګو کښې د خودي شعور نۀ شي پاته هغه ټولنه هم وده نۀ شي کولے او جمود په کښې ځای ومونډي.

يوې خوا ته که قناعت و خودي ته ژوند وربخښي بلې خوا ته طمعه د خودي زنګ ده. په طمعه کولو د انسان خودي ورو ورو ختميږي. رحمان بابا دداسي رويې غندنه اوکړکه ځينې کوي:

ګېډه وتړه په پړي سره کلکه
د روټيه طمع مه کړه له فلکه
هر سايل چې سوال د نان کا له اسمانه
ګويا غواړي په کچکول کښې اووه زمکه
له اسمانه چې څوك طمع د وفا کا
دغه طمع يې طاعون ګڼه بې شکه
له بارانه سره هسې ږلۍ اوري
چې هر زخم يې بد تر وي تر توپکه (34)

د خودي بنيادي مرام اوښوونه لالچ او هغه ټولې کمزورياني پرېښول دي د کوم له وجې چې د يوچا عزتِ نفس خوارېږي او د هغو ښېګړو په ځان کښې راوستل دي د کومو په مرسته چې انسان لوړځائ ته رسيږي کومه لوړتيا چې الله پاك نورو مخلوقاتو ته ورکړې ده او اشرف المخلوقات يي ګرځولي دي.

## درحمان بابا کلام او خودي:

داقبال د فلسفهٔ خودي په حقله عبدالقوي دريابادي ليکي:

"که لږ په غور وګورو د اقبال د خودي ټول اساسي مضامين د قرآن څخه اخيستي معلوميږي .مثلاً شرف و فضيلت، تسخير فطرت، عزم وهمت، جرات و شجاعت، همت و غيرت او قدرت واختيار باندې ډېر مضامين شته" **(35)**

دغه ډول رحمان بابا د خودي صريح تعريف نهٔ دے کړے خو د غو ټولو کارونو يا خويونو لکه همت، زيارکښي، ايمانداري، غيرت، قناعت، سړيتوب او دخودي نوراساسي مضامين يې په ډېره ښه توګه ستايلي دي کوم چې ديوې ټولنې يا فرد په خودي ژوندۍ ساتلوکښې بنستيز رول لوبوي او ددهٔ کلام هم د قرآن او حديث څخه اخستل شوے دے او وايي:

داچې زهٔ و تا ته وايم که خدائ کاندي
په ايات او په حديث کښې به ثرګند وي (36)

رحمان بابا ټولنه د ورانۍ او جمود و خوا ته نهٔ بيايي. هغه په خپله شاعرۍ کښې داسې پيغام ورکوي چې د پښتون وګړي او پښتني ټولني و خودي ته زيان نهٔ ورسيږي بلکې وده ورکړي.

مولانا عبدالقادر مرحوم په دې حقله وايي: "د رحمان بابا په صوفيانه شاعرۍ کښې دا صفت په خپل ځائ پوره پوره موجود دے .رحمان بابا مست ملنګ دے، قلندر دے ، ولې د ادب او تهذيب د حدود نهٔ بالکل بهر شوے نهٔ دے. د عشق په سلسله کښې خو هغه د جان او جهان د منزلونونه اخوا تللے دے. کوم چې د ملنګۍ مقام دے ولې سره ددې هغهٔ څهٔ داسې لفظي قدرې بې باکي هم نهٔ ده کړې چې د پښتون خودي ته پرې نقصان ورسيږي .**(37)**

.که څهٔ هم ځینې لیکوالانو رحمان بابا یو تارك الدنیا صوفي ښوولی دے او ددهٔ په حقله یې لیکلي دي چې دهٔ په ټولنیز ژوند کښې هیڅ برخه نهٔ اخیستله، ګوښه به د الله او د هغهٔ د محبوب په یاد کښې ددنیا له هر څهٔ څخه بې پرواه د ژوند شپې او ورځې به یې صبا کولې. خو دا خبره د حقیقت څخه په دې وجه لیرې بولم چې ددهٔ په شاعرۍ کښې (د موضوع له لارې) ښېلا ښېل اشعار ددې ثبوت دے چې رحمان بابا د ټولنپوه، زیرك او متحرك غړے پاته شوے دے. دهٔ په حېث دیو شاعر هغه ټولې ذمه واریانې تر سره کړې دي کومې چې یو پوه او عالم سړي له کول په کار دي.

دیو شاعر دپاره نهٔ دي په کار چې یو خیال یا فکر په داسې انداز وړاندې کړي چې نور هر خیال ځینې پاته شي. په دې ډول ددهٔ کلام عالمګیریت نهٔ شي موندلے او دے فقط د یوهٔ خیال خورونکے پاته شي اووروسته ددهٔ کلام هم صرف ددهٔ همخیاله خلګ لولي. د رحمان بابا په حقله هم ځینې محقیقین په شعوري توګه او ځینې په لاشعوري توګه دا وایي چې رحمان بابا دخدائ په یاد کښې مست او ددنیا له ژونده لیرې بس یو ملنګ ؤ. زما په خیال دا د رحمان بابا سره ظلم او ددهٔ د کلام بې قدري ده .

که رحمان بابا دغه ډول راهبانه ژوند تېر کړے وائ دهٔ قطعاً په خپلواشعارو کښې د ټولنې درد په داسې ښه انداز نهٔ شو وړاندې کولے، ولې د چا سره چې په خپله د یو شي درد نهٔ وي او هغه یې په خپله لیدلے او کتلے نهٔ وي، هیڅکله یې بل ته له درد او سوز څخه ډك نهٔ شي وړاندې کولے.مونږ دا ویلے شو چې رحمان بابا په ټولنه کښې د یو عام بچي په څېر لوئ شوے او په دغه ټولنه کښې ځوان شوے او بوډا شوے دے .ځکه د ټولنې غم او خوشحالي، ښه او بد هرڅهٔ پېژني او برملا اظهار یې هم کړے دے. په کلام کښې د ځوانۍ او پاخه عمر اشعا رجوت ښکاري .کېدای شي د ژوند په وروستۍ شپو کښې دجزوي ګوښه نشینۍ ژوند هم کړے وي لکه اکثر پښتانهٔ چې سپین ږیري شي له دنیایي ژونده لاس واخلي. خو ددې خبري سره اتفاق نهٔ شي کېدائ چې دهٔ ټول ژوند د یوتارك الدنیا صوفي په څېر تېر کړے دے.

څوك چې رحمان بابا تارك الدنیا صوفي بولي هغه په دې ډول د رحمان بابا کلام د خلګو په نظر کښې یوداسې کلام ثابتول دي چې ټولنه د ودې

ورکولو پر ځای جمود خوا ته بيايي او په خلګو کښې راهبانه ژوند کولو تبليغ کول او خلګ د ژوند څخه د بيزاره کولو هڅه ده. سليم راز په دې حقله ليکي : "يوه هغه ډله ده چې د طبقاتي مفاداتو د تحفظ او ناوړه مقاصدو د حصول د پاره يې په شعوري طور داکوشش کړے دے چې رحمان د حسن و عشق ، داولس نه کناره کش په يو کونج کښې ځانله ناست يو صوفي او ملنګ شاعر ثابت کړي او په دې ډول د خپلو ناوړو مقصدو تر سره کولو په غرض د رحمان بابا پيغام د اولس ذهني او عملي طور شل کولو او د ژوند نه فرار ته اماده کولو دپاره په کار راولي."(38)

حالانکې رحمان بابا دومره غيرتي اوخودار انسان ښکاري چې د الله پاک سيوا د هيچا منت وړلو ته نۀ اماده کيږي او مونږ ته هم دداسې صبر او قناعت خپلولو وينا کوي. د رحمان بابا په نظر کښې غوره انسانان هغه دي څوك چې خواري وکاږي او په زيار کښلو خپله روزي وګټي. اود هيچا منت پر ځان نۀ يوسي. د منت خواړه که د جنت وي هم نۀ يې قبلوي. د قيامت په سخته او ځان ځانۍ په ورځ هم خپله خوداري برقراره ساتل غواړي. مطلب يې داد ے چې په دنيا کښې داسې خواري اومحنت وکړه چې د اخيرت په ورځ حوض کوثر ته هم اړ نۀ شې. ځکه په هسکه غاړه وايي:

بې منته جام د زهروڅښلے ښۀ دے
نۀ هغه چې منت بار شي وکوثر ته (39)

بل ځای وايي:

بې له خدايه نور د هيچا منت مه کړه
په وچ کاني باندې ونه د کهسار شه (40)

د رحمان بابا دا عقيده ده که څوك خودي خپله کړي هغه د مادي لانجو له غمه خلاصيږي. دهغه هرډول ښېګړو او ترقۍ وسيلې مسبب الاسباب (الله) ورجوړ وي. دے دداسې ژوند تېروونکو انسانانودژوند سره د هغه ځنګلي ونې دژوند سره تشبيهه ورکوي چې پر پرښه ولاړه وي، د اوبو او نور خوراك هيڅ انتظا م يې ظاهراً نۀ ښکاري. خو دهغو ونو په مقابله کښې ټينګه او دزمانې د

سـيلۍ د زيـان څخـه عمومـاً پـه امـان وي کـومې ونـې چـې پـه کښـت ا و کرونـده کښې په خواري لويې شوې وي.

د کـانړي بنسـټ خـاوره ده. د زمـانې بادونـه، يخونـه او ګرمـۍ يـې ووهـي وروسـته کـانړے ځينـې جوړشـي. دغـه ډول د انسـان بنسـټ هـم خـاوره ده چـې د وخت ب‍ېورې ووينـي، خـوارۍ تېـرې کـړي. لـېکن خـودي لـه لاسـه ور نـهٔ کـړي داسـې خلـګ نهٔ د خدائ او نهٔ د ټولنې مختورن وي. برۍ تل دداسې کسانو په برخه وي.

پـه دنيـا ژونـد کښـې و انسـان تـه تـر هرڅـه ورتېـر وي. کـه څـوك تـر ژونـد تېـر شي هغـه تـر هـر څـهٔ تېرېـدای شـي. دا کـار پـه توفيـق او همـت تـر سـره کيـږي. پښـتانهٔ وايـي : "انسـان تـر ګـل نـازك تـر کـانړي کلـك دے".معنـا يـې داده چـې انسـان کـه همت وکړي د هرڅه تر لاسه کولو امکان شته.

رحمـان بابـا وايـي کـه د چـا سـره همـت او توفيـق وي هغـه تـه ددنيـا يـو کـار هـم نـهٔ دے ګـران. د سـتۍ کولـو والا تـه هـم د اور لمبـې ګلـزار شـي کـه سـتۍ کـوونکي د همـت او زړه ورتيـا څخـه کـار واخلـي زمـونږ پـه ټولنـه کښـې د سـتۍ دود نشـته خـو دلتـه دابـراهيمؑ و قصـه تـه اشـاره شـوې ده. رحمـان بابـا وايـي چـې لـه همتـه کـار واخلـې هـر مشـکل کـار بـه داسـي درتـه اسـان شـي لکـه ابـراهيم ﷺ تـه چـې د نمـرود اور ګلزار شو. وايي:

دتوفيـــق لـــه مخـــه هـــر مشـــکل اســـان دے
و ســـتۍ وتـــه د اور لمبـــې ګلـــزار شـــي (41)

تـر کومـه وختـه چـې مسـلمانانو پـه ژونـد کښـې عملـي دلچسـپي اخيسـتله تـر هغـه وختـه دوئ ددنيـا باچهـان وو د نـړۍ پـر مـخ يـې مـنظم او مضـبوط حکومتونـه وو. پـه جهـان کښـې يـې رعـب او دبدبـه وه . کلـه چـې ددوئ لـه مينځـه د عـدل اوانصـاف جنـازه اووتلـه. دوئ خپلوکښـې سـره غلـهٔ شـو نـو د فطـرت لـه خـوا لـه دوئ څخـه د حکمرانـۍ واك واخيسـتل شـو. دوئ پـه داسـې مجبوريـانو ونيـول شـول چـې پـه خـودي خرڅولـو کښـې يـې يـو ۀ اوښـکه تـوئ نـهٔ کـړه. لـه دې پرتـه ځينـې نـور نـاوړه دودونـه د اسـلام پـه بڼـه دې ټـولني تـه را ننوتـل چـې و ټولنـه تـه يـې لـه هـره جهتـه زيان ورساوه.

په داسې حال کښې رحمان بابا انسان ته د خواهشاتو پیروي نۀ کولو وینا کوي یعنې د غنا خپلولو وصیت کوي. تر څو چې له خلګو سره د ټولنې درد ؤ او د بل په زیان خوابدي کېدل او په ښۀ یې خوشحاله کېدل تر هغه وخته هرخوا ته امن او خوشحالي وه لېکن کله چې ځان ځاني شوه، هر چا خپلو مفاداتو ته کتل پیل کړل هغه وخت دامن او سوکالۍ ځائ بدۍ او شر وفساد ونیو. په دې سبب رحمان بابا هر وګړي ته فرداً فرداً د خوارۍ او زیار کښلو امر کوي .ولې د ځانګړي او ټولنیز ژوند پر مختګ او خوشحالۍ د پاره په کار ده چې انسان که د بل انسان دپاره ځان وځوروي او خواري وکاږي په دې ډول نۀ یوائې ددۀ ذاتي ګټه ده بلکې د ټولنې د پرمختیا سبب ګرځي رحمان بابا لیکي:

که د ونې په شان ګل ومیوه غواړې
ځان په نمر که سایه دار د هر خاکسار شه (42)

له دې پرته د ټولنیزې ښېګړې یا د بل لوئ مقصد تر لاسه کولو په وخت ځانګړي مفادات پرېښولو درس راکوي او پر انفرادي مفاداتو و ټولنیزو مفاداتو ته په ښه نظر ګوري.

د خپل ځان د پاره له الله څخه سوال کول رحمت نۀ زحمت ګڼي. رحمان بابا د انسانیت شاعر دے. ددۀ وینا عمومي او د ټول انسانیت دپاره ده.له دې وجې ددۀ کلام نۀ یوائې په پښتني ټولنه کښې بلکې په ټول شرق کښې په هره ټولنه کښې یې ادب خووښونکي او عام اولس پېژني:

چې د نفس دپاره لاس وخدائ ته نیسې
دازحمت له خدایه غواړې که دوا (43)

رحمان بابا وایي چې په ځان کښې د صدف خصوصیات پیدا کړه چې خلګو ته فایده ورسوې. صدف د اوبو په تل کښې وي. په نازك او کوشني صورت داسي کمال کوي چې ټوله دنیا ته نفع رسوي. کله چې یې په خولۀ کښې یو څاڅکے اوبه و لوېږي هغه څۀ موده وروسته غمے شي.

رحمان بابا وایي د ځګ غوندې مه جوړېږه چې داوبو پر سر ګرځي بل چا ته ګټه رسول خو پرېږده خپل ژوند یې معلوم نۀ وي چې تر څو به وي:

ځان صدف غوندې وخاوروته کړه ځېرمه
لکه ځګ هسې د بحر په سر مه شه (44)

وخودي ته تر ټولولوئ زيان بې ځايه توکل رسولے دے. رحما ن بابا هم د داسې توکل غندنه کوي کوم چې ټولنه د زوال وخواته هڅوي. دے وايي کـه څوك د توکل بندي شي هغه د هر ژوند څخه پاته کيږي.

توکل مې لاس اوپښې کړې په نکريزو
چې په ځائ يې کښېنولے يم قرار (45)

حضرت امام غزالي رحمة الله عليه د توکل په حقله په خپل کتاب کيميائې سعادت کښې داسې ليکي: "شايد د چا دا خيال وي چې د توکل شرط داد ے چې ټول کارونه په الله تعالى و سپاري په خپل اختيار هيڅ نۀ وکړي. تر دې حاله چې نۀ يو کسب وکړي او نۀ د سبا دپاره څۀ توښه کښېږدي. د مار، لړم او منزري (زمري) څخه نۀ ځغلي. که ناجوړه وي علاج نۀ کوي. داټولې خبرې بې ځايه هڅې دي".
په قران کښې الله پاك فرمايلي دي: " ان الله لا يغير ما بقوم حتٰى يغيروا ما بانفسهم. . ترجمه : بېشك الله پاك تر هغه وخته د يو قام حال نۀ بد لوي تر څو چې دوئ په خپله ددې د بدلولو هڅه و نۀ کړي." **(46)**
په ژوند کښې انسان د ډول ډول ستونځو سره مخامخ کيږي. انسان تل په دې هڅه کښې وي چې خپل مرام په يو يا بل ډول تر لاسه کړي رحمان بابا ددې ستونځو په همت سره د مقابلې کولو خبره کوي اوهغه چا ته افرين وايي څوك چې د خوارۍ او محنت کولو له وجې ټوك ټوك وي. د دوئ په مقابله کښې هغو غلو، بې ايمانه او بې ضميرو خلګو چا چې په غلا، بې ايماني يا په بله غلطه پيسې ګټلې وي داسې غندنه کړې ده:

ماته ملا په مشقت په محنت ښۀ ده
نۀ حرامه هميانۍ د چا تر ملا (۴۷)

رحمان بابا په تصوف کښې هم د رياضت او ټول ژوند په خانقاه يابل داسې ځاۍ کښې د تېرولو قايل نۀ دے چيرې چې د انسان په ځانګړي او ټولنيز ژوند منفي اثرات لوېږي او د ناکامۍ وخوا ته يون وکړي. رحمان بابا وايي چې هر انسان له په کار ده چې په ژوند کښې ورسپارل شوي ذمه دارياني په همت او ايمانداري سره تر سره کړي ځينې خلک په دې عقيده دي چې ددنيا ژوند هيڅ معنا نۀ لري. دا عارضي دے او داخيرت ژوند حقيقي او ابدي دے په اخيرت کښې د بري تر لاسه کولو دپاره ضروري ده چې ددنيا ژوند په رياضت او عبادت تېري شي. رحمان بابا وايي:

جنت چا په رياضت موندلی نۀ دے
ولې بويه هر بنده لره خپل کار(۴۸)

په دې کښې شك نشته چې داخيرت ژوند ابدي دے او د هر مسلمان په دې ايمان دے خو انسان په يو کونج کښې دژوند تېرولو دپاره نۀ دے پيداشوے بلکې دالله د عبادت کولو مطلب دادے چې د ژوند په هره شعبه کښې د الله پاك نازل شوي احکامات عملي کړي او معاملات صحيح کړي.

رحمان بابا د باچاهۍ له تختونو عمارتونو او قصرونو دومره مستغني او بې پرواه دے چې خپله خونه تر هر څۀ ښه ورته ښکاري. له دې د رحمان قناعت او له وطن سره مينه څرګنديږي. که څه هم نور دولت اودنيا نۀ لري خو بيا هم چا ته دسوال کولو يا د چا څخه د څۀ غوښتلو سوچ په زړۀ کښې نۀ راګرځوي. په خپله برخه راضي او خوشحاله دے.

اورنګ زيب که د ډيلي په تخت نازيږي
خپله خونه هر ګدا لره ډيلے دے (۴۹)

بل ځاۍ وايي :

بادشاهانو که قصرونه کړه اباد
ما د عشق عمارتونه کړه بنياد (50)

د وخت با چااو خان و بيګ ته سر ټيټول ددۀ په ضمير کښې نشته. هغو خلګو ته پېغور ورکوي چا چې خپله خودي خرڅه کړې وي او د بل و در ته د مادي ښېګړو تر لاسه کولو دپاره پراته وي. او وايي:

هومره سر دي و خپل خدائ وته ټيټ نۀ دے
لکه ټيټ په لور د خان او د سلطان يې(51)

ټولنه هغه وخت پر مختګ کولے شي چې په فطرتي قوانينو اړه و لري. د افراط و تفريط څخه پاکه وي. رحمان بابا هم د مېنځنۍ لار خپلو درس ورکوي او د ټولنيز ژوند پر مختګ اوخوداره ژوند تېرولو دپاره هر وخت د مېړې په شان مسلسل کارکول او پر بل تر تو ر لګولو مخکې د خپل ځان اصلاح کول د رحمان بابا د کلام پيغام دے. رحمان بابا وايي:

ښه ده ښه ده دا دنيا
چې توښه ده دعقبىٰ
مذمت ددنيا مه کړه
واوره پند کړه دا وينا
ددنيا په بازار کيږي
دهغۀ جهان سودا
دنيا کښت د اخيرت دے
دا خبره ده رښتيا
په دنيا کښې بدي نشته
که بدي نۀ وي له تا
په دنيا کښې خطا نشته
که له تا نۀ وي خطا
دنيا بده د هغو ده
چې يې کسب وي ريا
يا يې ټوله که په ظلم
يا د خمرو په سودا
يا يې ورکا په شرابو

يـــــــايې ورکـــــــا پـــــــه زنــــــا
ديــــــــوې ګېـــــــډې دپــــــــاره
هـــــزار خــــــونې کــــــه بېــــديا (51)

پـه دې څـو اشـعارو کښـې ددنيـا ارزښـت، ښـېګړې، نيمګړتيـاوې غـرض د ژونـد تېرولـو ټولـه فلسـفه يـې وړانـدې کـړې ده. اود يـو پـوه اوعـادل قاضـي پـه څېـر يـې خپلـه مـدعا ښـوولې ده. ښـه تـه يـې پـه ښـه او بـد تـه پـه بـد ويلـي دي. پـه دنيـا کښـې يـې د شـرعي او پښـتني ټـولني تـر اصـولو لانـدې ژونـد تېرولـو بانـدې دومـره اوږد بحث کړے دے چې ددۀ کلام ته دانساني ژوندخوندور تفسير ويلے شو.

رحمـان بابـادټولنې پـر هغوذمـه واروخلګـوچې منصـبونه لـري او د ټـولني د تـور او د سـپين پرېکـړې کـوي خـو د خپـل منصب سـره ايمانـداري نـۀ کـوي پـه جګـه غـاړه نيـوکې کـړې دي چـې مـونږ تـه ددۀ د خـودارۍ اود ژونـدي ضـمير ړون مثـال وړاندې کوي

چـا چـې خـودي لـه لاسـه ورکـړې ده هغـه يـې پـه ډاګـه غنـدلي دي. داسـي جيـراو پـه ميـزان برابرتنقيـد يـې بانـدې کـړے دے چـې امـي و مـلا، فقيـر و باچـا، قلنـدر و راجا، او پير وخانقاه يې ټول په کښې غندلي دي.

پـه دسـتار کښـې يـې مسـواک وي :: تـر بغـل لانـدې خنجـر
پــه ابروکښــې پــټ بخـري :: پــه وښوکښــې پــټ شــرر
پـه شـپه وينـي د مظلـوم خـوري :: سـبا کښـيني پـه منبـر
پــه زړۀ تورلکــه تبـې وي :: پــه مــخ سـپين لکــه قمـر
ددنيــا پــه طلـب ګرځـي :: خپــل ځــان بـولي قلنـدر (52)

بل ځای وايي:

نـــــۀ شــــې د خانـــــانو د ملنګــــو ســـــره کلــــي
چرتــه عزيــز خــان چرتــه ملنــګ عبــدالرحمان (53)

پـه لـوړ بيـت کښـې لاژوالـه، ژوره فلسـفه او د خـودي اعلـی نمونـه نغښـتې ده. رحمـان بابـا کرکـه ځرګنـدوي چـې د بېـل بېـل فکرخاوندان کلـه هـم د زړو قربـت نـۀ شـي سـره مونـدلے. ځکـه رحمـان بابـا خپـل ځـان ديـو غريـب پـه حېـث راپېژنـي اود

مخالف فکر لرونکو سره د کلوغي څخه د بیزارۍ اعلان کوي. دلته مخالف فکر څخه مراد هغه شتمن او مالداره خلک دي دچا خودي چې د خواهشاتو، مال او دولت، یا غرور او تکبر څخه متاثره شوې وي او رحمان بابا د هغو غریبانو نمایندګي کوي چا چې د خپلې خودۍ سودا نهٔ ده کړې او په خپله خودي فخر کوي.

د غریبانو او خانانو تډولنیز ژوند او فکر تر مینځ د توپیر له وجې د خانانو ځنګ ته تلل هم نهٔ خوښوي، په تېره بیا له دوئ سره کلوغي کول خو هیڅ امکان نهٔ لري! ولې دے دا وېره لري چې په داسې کولو خودي ته زیان رسیږي چې رحمان بابا کله هم دې ته تیارنهٔ دے.

د لوړ بحث څخه مونږ په دې نتیجه رسو چې خودي په انساني فطرت کښې یو داسې قوت دے چې ژوندي کېدو ته اړتیا لري. دا نهٔ ضد ته وایي او نهٔ انانیت یا خود پسندي ته وایي خودځان معرفت او عزت نفس بحاله ساتلو دویم نوم خودي دی. که د یو سړي خودي ژوندۍ وي هغه به پر هر ناوړه، خواروونکي او ګمراه کوونکي دود و دستور با ندې ښکاره خواشیني ښرګندوي او په ښو چارو به یې خوشحالیږي. دغه دخواشینۍ یا خوشحالۍ پاروونکی محرك ته خودي یا په عام اصطلاح کښې ضمیر هم وایي.

❁❁❁

# ماخذونه

(۱) خليل، محمد جاويد، قدردان د شاعرانو رحمان بابا، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، ۱۹۹۸. مخ ۲۵۶

(۲) رفيع، حبيب الله، رحماني خم، (دويم چاپ)دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۸ل - ۲۰۰۹ز. مخ ۱۷۱

(۳)خليل، حنيف، کليات رحمان بابا، دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۴ل- ۲۰۰۵ء، مخ ۲۶۶

(۴) قلندر مومند ،فريد صحرايي(مؤلفين) درياب، اميد پرنټرز، لاهور، ۱۹۹۴ – ۱۴۱۵ مخ ۶۴۳

(۵)کاکاخېل، ميا ظفر، ظفراللغات، يونيورسټي بك ايجنسي پيښور. مخ ۷۳۱

(۶) درسي لغت، لومړی چاپ، مقتدره قومي زبان پاکستان، ايس ټي پرنټرز راوالپنډي، ۲۰۰۱ مخ ۶۰۸

(۷) انوارلحق، سيد (مرتب) اردو پشتو لغت، ناشر مرکزي اردو بورډ لاهور ،تاريخ ندارد.

(۸) امروهي، حضرت نسيم، (مرتب) فرهنګ اقبال (فارسي) اظهار سنز اردو بازار لاهور اشاعت اول ۱۹۸۹ء، مخ 357.

(۹) فتح پوري، فرمان، اردو لغت اتم ټوك، اردو لغت بورډ (ترقي اردو بورډ) کراچي ،اشاعت د سمبر ۱۹۸۷. مخ ۷۷۱.

(۱۰) نورالدين، ابوسعيد، اسلامي تصوف اور اقبال، لومړی چاپ، اقبال اکېډمي کراچي، ۱۹۵۹ مخ ۲۷۱

(۱۱) خليل، حنيف، کليات رحمان بابا، دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۴ل- ۲۰۰۵ء، مخ ۳۰۳

(۱۲) خليل، حنيف، کليات رحمان بابا، دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۴ل- ۲۰۰۵ء، مخ ۲۹۷

(۱۳) اقبال عمل سې

(۱۴) سورة الرعد، آيت ۱۱.

(۱۵) سورة الدهر، آيت ۳.

(۱۶) خليل، حنيف، کليات رحمان بابا، دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۴ل- ۲۰۰۵ء، مخ ۲۸۹

(۱۷) خليل، حنيف، کليات رحمان بابا، دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۴ل- ۲۰۰۵ء، مخ ۲۳

(۱۸) سورة بنی اسرائيل، آيتل

(۱۹) نورا لدين، ابو سعيد ، اسلامي تصوف اور اقبال، اقبال اکېډمي کراچي، ۱۹۵۹.
(۲۰) نورالدين، ابو سعيد ، اسلامي تصوف اور اقبال، اقبال اکېډمي کراچي، ۱۹۵۹.
(۲۱) اسرار خودي.
(۲۲) اسرار خودي.
(۲۳) رفيقي، عبدالرؤف، اقبال اور پشتو شاعري، اقبال اکېډمي لاهور، ۲۰۰۴،
(۲۴) اقبال باکمال، تنقيدي مضامين، تاج بك ډپو اردو بازار لاهور، ۱۹۶۶. مخ ۱۹۸
(۲۵) اقبال باکمال، تنقيدي مضامين، تاج بك ډپو اردو بازار لاهور، ۱۹۶۶. مخ ۱۹۸
(۲۶) علامه اقبال، اسلامی فکر کی نئی تشکيل، مترجم (شهزاد احمد) مکتبه، خليل لاهور، مخ ۱۲۶.
(۲۷) خليل، حنيف، کليات رحمان بابا ، دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۴ل- ۲۰۰۵ء، مخ ۹۹
(۲۸) ايضاً، مخ ۳۷۳
(۲۹) ايضاً ، مخ ۲۱۶
(۳۰) ايضاً ، مخ ۲۹۰
(۳۱) ايضاً ، مخ ۲۱۶
(۳۲) ايضاً ، مخ ۲۹۰
(۳۳) ايضاً ، مخ ۲۹۶
(۳۴) اقبال باکمال، تنقيدي مضامين، تاج بك ډپو اردو بازار لاهور، ۱۹۶۶. مخ ۲۰۳
(۳۵) رحمان پوهنه، ناشر رحمان ادبي جرګه پېښور، ۱۹۹۳ء مخ ۲۶۶
(۳۶) خليل، محمد جاويد ،قدردان د شاعرانو رحمان بابا، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، ۱۹۹۸. مخ ۲۶۱.
(۳۷) رحمان پوهنه، ناشر رحمان ادبي جرګه پېښور، ۱۹۹۳ء مخ ۱۶۰
(۳۸) خليل، حنيف، کليات رحمان بابا ، دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۴ل- ۲۰۰۵ء، مخ ۲۶۲
(۳۹) خليل، حنيف، کليات رحمان بابا ، دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۴ل- ۲۰۰۵ء، مخ ۲۸۸
(۴۰) خليل، حنيف، کليات رحمان بابا ، دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۴ل- ۲۰۰۵ء، مخ ۳۶۲
(۴۱) خليل، محمد جاويد ،قدردان د شاعرانو رحمان بابا، پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي، ۱۹۹۸. مخ ۲۸۴.
(۴۲) خليل، حنيف، کليات رحمان بابا ، دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۴ل- ۲۰۰۵ء، مخ ۹۱
(۴۳) خليل، حنيف، کليات رحمان بابا ، دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۴ل- ۲۰۰۵ء، مخ
(۴۴) خليل، حنيف، کليات رحمان بابا ، دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۴ل- ۲۰۰۵ء، مخ ۱۵۲
(۴۵) سورة الرعد آيت ۱۱.

(۴۶) خلیل، حنیف، کلیات رحمان بابا، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴ل- ۲۰۰۵ء، مخ ۵۹
(۴۷) خلیل، حنیف، کلیات رحمان بابا، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴ل- ۲۰۰۵ء، مخ ۱۵۱
(۴۸) خلیل، حنیف، کلیات رحمان بابا، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴ل- ۲۰۰۵ء، مخ ۴۳۴
(۴۹) خلیل، حنیف، کلیات رحمان بابا، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴ل- ۲۰۰۵ء، مخ ۱۲۹
(۵۰) رحمان پوهنه، ناشر رحمان ادبي جرګه پېښور، ۱۹۹۳ء مخ ۱۱۹
(۵۱) خلیل، حنیف، کلیات رحمان بابا، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴ل- ۲۰۰۵ء، مخ ۹۸ تا ۱۰۲
(۵۲) رفیع، حبیب الله، رحماني خم، (دویم چاپ) دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۸ل - ۲۰۰۹ز. مخ ۱۸۱
(۵۳) خلیل، حنیف، کلیات رحمان بابا، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴ل- ۲۰۰۵ء، مخ ۲۳۰